امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۲۲ الی ۲۷ جدی ۱۴۰۳
شماره نودو یکم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او پاملرنې نړیوالې مؤسسې ترمنځ د ۱۳۰۹۷۰۲ امریکایي ډالره په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د پاملرنی نړیوالی مؤسسې د مرستیالی اغلې کریستینا، دپروژې د مدیر محمد وکیل نایب او داړیکو مسؤل داکتر سید منیر سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۵ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب دپاملرنی نړیوالی مؤسسې راغلی پلاوی ته شه راغلاست وواېه او زیاته یی کړه چی باید د ټولو پېښ ځپلو کورنیو سره نغدی، خوراکی او غیری خوراکی توکو مرسته وسی تر څو پېښ ځپلی کورنۍ د فقر او بې وزلۍ څخه وژغورل سی...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست او د اسیا ټولنیزو خدماتو نړیوالي مؤسسې ترمنځ د ۲۹۱۵۶ ډالرو په ارزښت هوکړه لیک لاسلیک سوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاری دفتر کې د اسیا ټولنیزو خدماتو نړیوالي مؤسیسې د سرپرست رئیس حزب الرحمن او مدیر اداری اجمل اصف سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۵ نیټه وکتل...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست له سره صلیب او سرې میاشتې ټولنو د نړیوال فدراسیون د رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابې د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنی نړیوال فدراسیون د رئیس نیسوفر میګندی، د پروګرامونو مسؤل احمد سلیمان او د تشریفاتو د مدیر...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې مرکزی ګدام او د کابل ولایت ګدام په معیاری ډول ترمیم او جوړ سول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د محترم مقام په لارښوونه، د یادې ادارې مرکزی او د کابل ولایت ګدامونه چې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په انګړ...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او پاملرنې نړیوالې مؤسیسې ترمنځ د ۱۳۰۹۷۰۲ امریکایي ډالره په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سو




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی  د پاملرنې نړیوالې مؤسیسې د مرستیالې اغلې کریستینا، دپروژې د مدیر محمد وکیل نایب او داړیکو مسؤل داکتر سید منیر سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۵ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل.

ترابی صاحب دپاملرنې نړیوالې مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وواېه او زیاته یې کړه چې باید د ټولو پېښ ځپلو کورنیو سره نغدی، خوراکی او غیری خوراکی توکو مرسته وسی تر څو پېښ ځپلی کورنۍ د فقر او بې وزلۍ څخه وژغورل سی.

همدا راز ترابی صاحب د پاملرنې نړیوالې مؤسیسې څخه مننه وکړه چې په هرات ولایت کې زلزله ځپلوکورنیو ته د کورونو دجوړښت او د ترمیم لپاره نغدی مرستی ویشی.

د پاملرنې نړیوالې مؤسیسې سرپرست او معاون کریستینا د یادی ادارې دسرپرست څخه مننه وکړه چې وخت یې ورکړ او زیاته یې کړل چې موږ به تل هڅه کوو چې په بیلابیلو برخو کې پېښ ځپلو کورنیو ته مرستی ورسوو او دخلګو اړتیاوې پوره کړو.

کریستینا زیاته کړه چې یادې مؤسیسې په افغانستان کې په ۱۹۶۰ کال کې فعالیت پیل کړی دی او په بیلابیلو برخو کې مو افغان اولس ته خدمت کړی دی.

دیادونې وړ ده چې ۱۳۰۹۷۰۲ یو میلون درې لکه نهه زره اوه سوه دوه امریکایي ډالره په ارزښت تفاهمنامه لاسلیک سوه چې له مخی به یې دهرات ولایت د کشک رباط سنګی په ولسوالۍ کې ټوټل ۴۰۰ کورنیو ته نغدی مرسته رسول کیږی چې له هغې جملې څخه یې

1. د ۲۷۲مستحقو او زیانمنو کورنیو ته هغه کورنیو ته  چې سرپرستی به یې د ښځو په غاړه وی او یا هم معلول غړی ولری او مالی توان و نلری کورنیو ته د سرپنا جوړونې په موخه  نغدی پیسې ورکول کیږی چې هرې کورنۍ ته به ۲۷۰۰ امریکایي ډالره یا د هغې معادل افغانی په څلورو قسطونو کی (۳۰٪، ۳۰٪ ، ۳۰٪ او ۱۰٪)  ورکول کیږی تر څو دوی عاجله سرپناه کور باندی  جوړ کړی.
2. د ۱۲۸ هغو کورنیو چې د زلزلې له امله یې کورونه تخریب شوی او ترمیم ته ضرورت لری چی هرې کورنۍ ته به ۱۰۰۰ امریکایي ډالره یا د هغې معادل افغانی په څلورو قسطونو کی (۳۰٪، ۳۰٪ ، ۳۰٪ او ۱۰٪)  ورکول کیږی تر څو دوی پرې دیوالونه، چتونه، دروازې، کړکۍ، پلستر او داسې نور پرې ترمیم کړی.
3. ۲۰۰ کسانو ته د ظرفیت لوړونې په موخه د ساختمانی چارو او د خطراتو د کمښت مدیریت (DRR) اړوند ټرینګونه په لار اچول کیږی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست او د اسیا ټولنیزو خدماتو نړیوالې مؤسسې ترمنځ د ۲۹۱۵۶ ډالرو په ارزښت هوکړه لیک لاسلیک سوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاری دفتر کې د اسیا ټولنیزو خدماتو نړیوالی مؤسیسې د سرپرست رئیس حزب الرحمن او مدیر اداری اجمل اصف سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۵ نیټه وکتل.

ترابي صاحب په خپلو خبرو کې د CWSA نړیوالی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یی کړه چی ژمنې مرستی دی ژر تر ژره تر خلګو ورسوی ترڅو د ژمی توکی باید په ژمی کی وویشل سی.

همدا راز ترابي صاحب یادونه وکړه که مرسته لږ وی یا ډېره خو باید اساسی وی او اړمنو کورنیو ته پر وخت ورسیږی.

ورسته د اسیا ټولنیزو خدماتو نړیوالی مؤسیسې سرپرست رئیس حزب الرحمن د ترابي صاحب څخه ځانګړی مننه وکړه چی وخت یی ورکړ او زیاته یی کړه چی یادی ادارې تل زموږ سره همکاری کړی ده او موږ هم تل کوښښ کوو چی خلګو ته مرستی ورسوو.

دیادونی وړ ده چی د ۲۹۱۵۶ ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک شوه له مخی به یې د لغمان ولایت په علینګار ولسوالی کی ۱۲۰ بې وزله او اړمنو کورنیو ته د۲۰۰ ډالرو معادل نغدی افغانۍ ورکول کیږی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست له سره صلیب او سرې میاشتې ټولنو د نړیوال فدراسیون د رئیس سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنی نړیوال فدراسیون د رئیس نیسوفر میګندی، د پروګرامونو مسؤل احمد سلیمان او د تشریفاتو د مدیر عبدالرشیدهمیم سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۴ نیټه په خپل دفتر کی وکتل

ښاغلي ترابي صاحب راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او مننه یې ورڅخه وکړه چی تل یې زموږ سره همکاری کړې ده او وویل چی له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملی اداره هڅه کوی چی ټولی مرستندویه مؤسیسې وهڅوی او اسانتیاوې ورته برابری کړی ترڅو د دوی کارونه په چټکۍ او اسانۍ سره پر مخ ولاړ شی او زیاته یې کړه چی موږ د خلګو اړتیاوې د دهیواد په کچه راټولی کړی دی او په ډیټابیس سیستم کی مو ثبت کړی ترڅو خپل پروژې د هغې له مخې تطبیق کړو.




همدا راز ترابي صاحب زیاته کړه چی موږ تل همکارۍ ته چمتو یو او هڅه کوو چی په ټولو برخو کی اسانتیاوی رامنځ ته کړو.

وروسته د سره صلیب اوسرې میاشتی نړیوال فدراسیون رئیس ښاغلي نیسوفر میګندی مننه وکړه چی د یادی ادارې د سرپرست سره ملاقات وکړ او خوښی یې څرګنده کړه چی تل یې زموږ سره په هره برخه کی پوره همکاری کړی ده او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له خوا یې د پروژو د تطبیق لپاره د اسانتیاوو د برابرولو څخه مننه وکړه.

همدا راز ښاغلي میګندی زیاته کړه چی موږ کوښښ کوو ترڅو په افغانستان کی بشری مرستی او پروژې زیاتې کړو.

ښاغلي میګندی وویل چی بایدموږ داسی ټیمونه ولرو تر څو که یو پېښه وسي ژرتر ژر رسیدنه ورته وکړی او په ولایتونو کی باید خلګو ته د بیلابیلو لارو څخه عامه پوهاوی ورکړل سی ترڅو د پیښو پر وړاندی وقایه ولری.

د غونډی په پای کې د دواړو خواوو له لوری د مؤثرو پروژو د تطبیق لپاره د دوه اړخیزو همکاریو دوام لپاره ټینګار وسو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې مرکزي ګدام او د کابل ولایت ګدام په معیاري ډول ترمیم او جوړ سول

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د محترم مقام په لارښوونه، د یادې اداري مرکزی او د کابل ولایت ګدامونه چې د کابل ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په انګړ کې شتون لری، د معیاری ترمیم او معیاری کولو وروسته په خوندی توګه د خوراکی او غیر خوراکی توکو د زېرمه کولو لپاره چمتو شول.

د یادوني وړ ده، چې مخکې دې اداري د ملی پراختیا د ارزاقو ریاست ځینې ګودامونه په کرایه نیولی وو؛ خو اوس مهال له ډېرو هڅو وروسته، د دې اداري ګوداموني چې مخکې غیرمنظم او غیر معیاری وو، او په یوه برخه کې یې نه کارېدونکی وسایل او اوسپنیز توکی ځای پر ځای شوی وو، تخلیه شول او اوس په منظم او معیاری ډول د مرستندویه توکو د زېرمه کولو لپاره چمتو سول.

باید ووېل شی، چې د دې ګدامونو په ترمیم سره له یوې خوا د کرایې له ورکولو څخه سپما وسول ، او له بلې خوا به د خوراکی او غیر خوراکی توکو د خرابېدو او ورستېدو مخنیوی کېږی. همداراز، له دې ګوداموونو څخه ترلاسه شوی وسایل چې د ترمیم وړ وه، هغه ترمیم سول او د دې اداري مرکزی او ولایتی ریاستونو ته به ولیږل سی، او هغه وسایل چې د ترمیم وړ نه دی، داغمه او لیلام ته به وړاندې سی.



---

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست دجینوا کال مؤسیسې د رئیس او راغلي پلاوی سره وکتل

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست په افغانستان کی دجینوا کال مؤسیسې د رئیس فهد عباسی، دبشری خدمتونو دلاسرسی او اړیکو سلاکار نجیب الله سلیمان خیل او دپروګرام د همږغی کونکی حکمت الله ځدران سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۳ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

له پیښو سره د مبارزې آما ګی ملی اداري سرپرست دجینوا کال مؤسیسې راغلی پلاوی ته تر ښه راغلاست وروسته دیادی اداري پر فعالیتونو او ستونزو بحث وکړ.

ترابی صاحب همداراز د جینوا کال مؤسیسې راغلی پلاوی ته د هر ډول همکاریو ډاډ ورکړ او وویل چی په ګډه به د پیښو پر وړاندی همکاری سره کوو.

د جینوا کال مؤسیسې رئیس فهد عباسی له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري دسرپرست څخه مننه وکړه او خوښی څرګنده کړه چې موږ ته د مو د ملاقات وخت راکړ او وویل چی جینوا کال مؤسیسه په ۲۰۱۹ کال کی په افغانستان کی فعالیت پیل کړی دی او دبیلابیلو ادارو کسانو ته مو ورکشاپونه جوړ کړی دی.



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په افغانستان کې د قزاقستان د سفیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملانور الدین ترابی د قزاقستان د سفیر ګازیز اکباسوف او ورسره راغلی پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۰ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وویل او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې پر لاسته راوړانو او مشکلاتو یی ګډ بحث وکړ او یادونه یی وکړه چی په افغانستان کی زیات شمیر خلک د غربت او بې وزلۍ سره مخ دی او مرستو ته جدی اړتیا لری.

همدا راز ترابی صاحب زیاته کړه چی قزاقستان هیواد تل زموږ سره د مرستو په برخه کی زیاته همکاری کړی ده او موږ ورڅخه منندوی یو او په راتلونکی کی یې د لازیاتو همکاریو او مرستو غوښتنه وکړه.

د قزاقستان سفیر ښاغلی ګازیز اکبا سوف د یادی ادارې د سرپرست څخه مننه وکړه او افغانستان یې د قزاقستان هیواد یو ښه دوست هیواد یاد کړ او د خپلو کړو مرستو یادونه یې وکړه او وویل چی لابه هم خپلو مرستو ته دوام ورکوو ترڅو لا هم د دغه دوو هیوادونو اړیکی سره پیاوړی سی.

ښاغلی اکبا سوف زیاته کړه، هغه مرستی چی موږ یې د افغانستان هیواد سره کوو د خپلو تولیداتو څخه دی او بعضی اجناس او توکی د نورو هیوادو څخه خریداری کوو او ستاسو سره یې د مرستی په شکل شریکوو.

دغونډې په ورستیو کی د قزاقستان سفیر د ترابی صاحب څخه غوښتنه وکړه چی تاسو د هغو خوراکی او غیر خوراکی اجناسو لیست چی تاسو ضرورت ورته لری، موږ ته یې راکړئ موږ به انشاالله ستاسو سره په لنډ وخت کی مرسته وکړو او ترابی صاحب ورته ډاډ ورکړ چی په دوو ورځو کی به لیستونه تاسو ته رسماً وسپارو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د تیرو ۱۵ کلونو بې ضرورته اسناد حریق (وسوځل ) سول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مقام لخوا یو پوه قوی هیئت د دې لپاره وټاکل سو چی د تیرو ۱۵ کلونو د آرشیف ټول اسناد سند په سند تر نظر تیر کړې او بیا هغه اسناد چی دحریق (سوځل) وړ وې، هغه محوه کړې او چی د ساتلو وړ وې هغه په منظمو الماریو کی آرشیف کړې چیې بیا مؤظف هیئت تقریباً یوه نیم میاشت ټول اسناد تر نظر تیر کړل، تر نیمائی ډیر اسناد یې د حریق وړ وبلل چی بیاله پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مقام لخوا داطلاعات او فرهنګ وزارت څخه د ملی آرشیف مسلکی اعضاء وغوښتل سول تر څو د حریق (سوځل ) وړ اسناد یو ځل بیا تر نظر تیر کړې چی بیا د ملی آرشیف دوه نفره مسلکی ماهرین راغلل او د حریق ( سوځل ) وړ اسناد د دوی لخوا هم تائید سول.

بالآخره د حریق ( سوځل ) وړ اسناد په دوو لاریو موټرانو کې یوړل سول او د هیئت په حضور کې حریق ( وسوځل ) سول.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د ۵۰۰ زیانمنو کورنیو لپاره د نغدی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې او د اکشن ایډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، یادې موسسې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست په همغږۍ، په ده سبز ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله د ۵۰۰ زیانمنو، بېځایه شویو او اړمنو کورنیو لپاره د نغدی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۴۶۸ ډالر یا د هغه معادل افغانۍ په درېیو قسطونو کې وېشل کېږي چې نن ورځ د مسؤلینو په شتون کې له یادې جملې ۳۰۰ کورنیو هرې یوې ته د لومړی قسط ۱۱،۵۵۰ افغانۍ ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده چې پاتې نورو کورنیو ته به په راتلونکو ورځو کې هم نغدی مرستې ووېشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) گڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په گډون د دې ادارې په انگړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجندا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د گډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجندا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۳،۱۹۷،۰۰۰ افغانۍ ۲۳۰ زیانمنو او بېوزله کورنیو ته ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د DRC موسسې په مالی ملاتړ، په سپین بولدک ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله ۲۳۰ زیانمنو او بېوزله کورنیو ته د ژمنی اړتیاوو پوره کولو لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست او د یادې موسسې د استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۳،۹۰۰ افغانۍ او په مجموع ۳،۱۹۷،۰۰۰ (۳) میلیونه او ۱۹۷ زره) افغانۍ یاد شمېر کورنۍ ته ووېشل شوې.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۳ زیانمنو کورنیو ته غیر خوراکی مرستې ووېشلې



د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د بشری مرستو ټولنې مؤسسې په مالی ملاتړ، ۵۳ سیلاب ځپلو کورنیو ته د یاد ولایت په دشت ارچی ولسوالۍ کې، غیر خوراکی مرستې ووېشلې.
د مرستو په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د یاد ریاست د مسؤلینو په شتون کې، ۲ تختې کمپلې، ۱ بخارۍ سره له ټولو وسایلو او ۳۰ کیلوګرامه د ډبرو سکاره ووېشل شول.
د یادونې ده، چې یاد شمېر کورنیو ته دا مرستې له دقیقې سروې وروسته ورکړل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث لغمان روند توزیع کمک‌های نقدی را برای ۲۰۲ خانواده آغاز کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با حمایت مالی مؤسسه AHF و همکاری تخنیکی مؤسسه OCHR، روند توزیع کمک‌های نقدی را برای ۲۰۲ خانواده متضرر و نیازمند که از اثر حوادث طبیعی در ولسوالی علیشنگ آسیب دیده بودند، آغاز کرد.
در این روند با حضور مسئولین محلی، برای ۱۰۵ خانواده از مجموع این تعداد، برای هر خانواده مبلغ ۱۴،۴۰۰ افغانی و در مجموع ۱،۵۱۲،۰۰۰ افغانی (یک میلیون و پنج صد و دوازده هزار افغانی) پول نقد توزیع گردید.
قابل ذکر است که به سایر خانواده‌های باقی‌مانده، کمک های نقدی فردا توزیع خواهد شد.



## د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې



د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د اور لګېدنې او وچکالۍ له امله ۴۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.
د یادونې ده، چې د مرستو په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې او یوه تخته کمپله ورکړل شول.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۲۰۰ خانواده نیازمند کمک‌های زمستانی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی مؤسسه درمان، برای ۲۰۰ خانواده نیازمند، بعد از سروی به هر خانواده کمک‌های زمستانی توزیع کرد.
در این پروسه در حضور مسوولان به هر خانواده ۲ تخته کمپل و ۲ عدد جمپر طفلانه توزیع گردید.
باید گفت که این کمک به اساس تفاهم‌نامه که قبلآ میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه درمان امضا گردیده بود، در هماهنگی با آن ریاست برای خانواده‌های نیازمند توزیع شد.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي توکي وویشل




د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د اورلګېدنې له امله ۳۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.
د یادونې وړ ده, چې په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه, ۵۰ کیلو وریجې, ۳ تختې کمپلې او یوه بسته هایجن وویشل شول.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱۵ زیانمنونکو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آقاخان موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ او د اروپايي ټولنې په مالي ملاتړ، په دره صوف پایین ولسوالۍ کې ۳۱۵ زیانمنونکو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې.
دا مرستې د آقاخان موسسې له لورې د سروې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د اقتصاد ریاست، ولسوالۍ او د موسسې د ګډ پلاوي تر څارنې لاندې ترسره شوې او هرې کورنۍ ته ۸,۷۹۰ افغانۍ او په مجموع کې ۲,۷۶۸,۸۵۰ (۲ میلیونه، ۷۶۸ زره او ۷۹۰ افغانۍ) یاد شمېر کورنیو ته وویشل شوې.
ورته مهال د یادې ولسوالۍ خلکو د ژمي په فصل کې له دغه ګام څخه قدرداني او خوښي څرګنده کړه.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۹ زیانمنو کورنیو سره خوراکي او غیرخوراکي مرستې وکړې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په کندهار ښار کې د بارانونو او اورلګېدنې له امله ۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د یاد ریاست، ولایت مقام او د کډوالو چارو ریاست د ګډ پلاوی په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو وریجې، ۶ تختې کمپلې، ۱ پلاستیکي سطل او ۲ ژمنۍ البسې ووېشل شوې.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۲ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

دلغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د AHF مؤسسې په مالي ملاتړ او د OCHR مؤسسې په تخنیکي همکارۍ، ۲۱۲ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته د یاد ولایت په الینګار ولسوالۍ کې نغدي مرستې ووېشلې.

د مرستو په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته ۲۰۰ ډالر یا د دې معادل ۱۴,۴۰۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې، چې په ټوله کې یاد شمېر کورنیو ته ۳,۰۵۲,۸۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو په پار خوښي څرګنده کړه.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بامیان برای ۳۰۹ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته بین‌المللی نجات (IRC)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی کمیته مذکور برای ۳۰۹ خانواده مستحق و آسیب‌پذیر در ولسوالی یکاولنگ ۲ مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این روند، برای هر خانواده مبلغ ۲۲,۵۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع ۶,۹۵۲,۵۰۰ افغانی به مستحقین پرداخت گردید.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کابل برای ۱۱۶ خانواده آسیب‌دیده مساعدت‌های نقدی، غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، کمک‌های نقدی، غذایی و غیر غذایی را برای ۱۱۶ خانواده آسیب‌دیده از برف باری و بارندگی‌های اخیر در نواحی مختلف این ولایت توزیع کرد.
از این جمله این ریاست به همکاری مؤسسه نه آنلوس، برای ۸۰ خانواده آسیب‌دیده و نیازمند ناحیه نهم کابل، بر اساس تفاهم نامه قبلی میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه مذکور برای هر خانواده به عنوان قسط دوم مبلغ ۱۰۰ دالر و در مجموع ۸۰۰۰ دالر برای همه آنان توزیع کرد.
در همین حال، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث، برای ۱۶ خانواده که از اثر بارندگی و برف‌باری دچار خسارات شده بودند، برای هر خانواده ۲ بوری ۵۰ کیلویی آرد سفید، ۱ بوری ۵۰ کیلویی گندم سیاه، ۱ بوری ۲۵ کیلویی برنج، ۳ بسته چپس، ۳ لیتر روغن، ۷ بسته آرد سجی و ۱ کارتن آش مگی توزیع کرد.
این ریاست همچنین برای ۲۰ خانواده آسیب‌دیده از نواحی ۴، ۹، ۱۲ و ۱۴ شهر کابل، برای هر خانواده ۵۰ کیلو گندم، ۲۵ کیلو برنج، ۱ بوری ماکارونی، ۱ بسته وسایل زمستانی، ۲ تخته کمپل، ۵ دست لباس و ۲ جفت بوت اهدا کرد.

## د پکتیا ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۳۷ اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې



د پکتیا ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ, د جانی خېلو ولسوالۍ اړوند ۴۳۷ اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د دویم ځل لپاره ۵,۵۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۲,۴۰۳,۵۰۰ (۲ میلیونه، ۴۰۳ زره او ۵۰۰) افغانۍ نغدی پیسې یاد شمیر کورنیو ته وویشل شوې.

## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲۰ بېوزله کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست له لورې د ژغورنې نړیوالې کمېټې سره د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالي ملاتړ، ۲۲۰ بېوزله کورنیو ته د خوراکي توکو پېرلو په موخه نغدي مرستې ووېشلې.

دا مرستې چې له سروې وروسته د څلورم قسط په توګه ترسره شوې، هرې کورنۍ ۲۸۰۰ افغانۍ ترلاسه کړې او په مجموع کې ۶۱۶،۰۰۰ (۶۱۶ زره) افغانۍ نغدې پیسې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بدخشان برای ۳۱۵ خانواده نیازمند کمک نقدی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان با حمایت مؤسسه آقاخان برای اسکان، کمک‌های زمستانی خویش را برای متضررین و مستحقین ولسوالی یمگان توزیع کرد.

این کمک‌ها در حضور نماینده اداره ولسوالی یمگان و نماینده ریاست آمادگی مبارزه با حوادث، در هفت قریه آسیب‌پذیر توزیع شد. در این روند، به هر خانواده مبلغ ۸,۷۹۰ افغانی توزیع گردید که مجموع این کمک‌ها برای ۳۱۵ خانواده به ۲,۷۶۸,۸۵۰ (دو میلیون، هفتصد و شصت و هشت هزار و هشتصد و پنجاه) افغانی می‌رسد.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۱۲ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې









له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست له لورې د ژغورنې نړیوالې کمېټې IRC سره د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالي ملاتړ، ۸۱۲ کورنیو ته چې د تېرو وچکالیو له امله د یاد ولایت په قلعه نو کې زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲,۸۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۲,۲۷۳,۶۰۰ (۲ میلیونه، ۲۷۳ زره او ۶۰۰) افغانۍ نغدې پیسې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

## ساخت و بهره‌برداری از یک دیوار استنادی در ولسوالی خرم‌سارباغ ولایت سمنگان



بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه آقا خان برای اسکان، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با همکاری مؤسسه مذکور، یک دیوار استنادی را در قریه خدریان ولسوالی خرم‌سارباغ به بهره‌برداری سپرد.
این دیوار به طول ۴۶ متر، عرض ۳ متر تا ۸۰ سانتی‌متر، و ارتفاع ۶.۵ متر با هزینه مجموعی مبلغ ۱,۸۶۲,۳۰۰ (یک میلیون، هشتصد و شصت و دو هزار و سه‌صد) افغانی و در مدت ۴۰ روز ساخته شده است.
هدف از ساخت این دیوار کاهش و جلوگیری از خطر سیلاب در منطقه مذکور بوده است.
مراسم افتتاحیه این پروژه با حضور مولوی احسان‌الله احسان رئیس آمادگی مبارزه با حوادث، مسوولان محلی و نماینده مؤسسه آقاخان برای اسکان برگزار شد.
مردم منطقه از این اقدام ابراز خرسندی کرده و قدردانی نمودند.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې ولایتی کمېټې د پرېکړې له مخې، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د WFP, UNHCR, UNICEF سازمانونو په همکارۍ، په برمل ولسوالۍ کې د پاکستان هیواد له لوري ترسره شوی د هوایي برید له امله ۱۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د WFP موسسې له لوري ۲۰۰ کیلو اوړه، ۸.۲ لیتره غوړي، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه ۳ کیلو د ماشومانو مواد، د مېرمنو لپاره WSD مواد، همدارنګه د UNICEF سازمان له لوري ۱۰ هایجن کېټونه، ۱۰ فامیلی کېټونه، ۱۰ ترپالونه، ۱۰ درجن صابون او د پخلنځی مکمل توکی او د دې ترڅنګ د UNHCR سازمان له لوری ۳۰ تختې کمپلې، ۱۰ عدده فلزی باکټ، ۱۰ پایه د ګاز ډبې، ۲۰ روغتیایی کېټونه، ۱۰ د پخلنځی کېټونه، ۲۰ تختې ترپالونه، ۲۰ دستمالونه او ۳۰ عدده صابون یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شول.
ورته مهال د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادو سازمانونو څخه مننه او خوښی څرګنده کړه.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۹۵ کورنیو ته نغدي او ژمنۍ مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DAARTT موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، یادې موسسې د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، ۲۹۵ کورنیو ته د یاد ولایت په پلچراغ ولسوالۍ کې له سروې وروسته نغدې او ژمنۍ مرستې ووېشلې.

دغه لړۍ چې د مسؤلینو په شتون کې ترسره شوه، هرې کورنۍ ته ۲۰,۲۰۰ افغانۍ پیسې او ۵ تختې کمپلې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیکا برای ۲۵۰ خانواده کمک‌های غذایی توزیع کرد



به اساس هدایت مقام ولایت پکتیکا، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت در منطقه گواشتی ولسوالی وازی خوا برای ۲۵۰ خانواده نیازمند و بی‌بضاعت کمک‌های غذایی توزیع نمود.

این کمک‌ها پس از سروی و با حضور مسئولین توزیع گردید که هر خانواده ۵۰ کیلو آرد و ۲۵ کیلو برنج دریافت کردند.

در همین حال، خانواده‌های مستحق که از این کمک‌ها بهره‌مند شدند، در فصل زمستان از این اقدام مسئولین قدردانی و خوشحالی خود را ابراز کردند.

### اقدامات ضروری در هنگام آتش سوزی

**پیام ما:**

۱ محیط آتش سوزی را به سرعت ترک نمایید
۲ اگر شرایط امن است به دیگران کمک کنید
۳ زنگ خطر را به صدا در بیاورید
۴ هر چی عاجل به اطفائیه تماس بگیرید